# ولې افغان کډوال بېرته راتګ ته زړه نه ښه کوي



IOM يا د کډوالۍ نړيوالې ادارې په خپل وروستي راپور کې ويلي دي چې د روان کال جنورۍ مياشتې راهيسې تر دې دمه شاوخوا درې نيم لکه افغان کډوال د پاکستان او ايران څخه هېواد ته يا په زور او يا په خپله خوښه راستانه شوي دي. هېواد کې امنيتي او اقتصادي ستونزې چې د بېرته راستنېدونکو کډوالو پر وړاندې ستر سرخوږۍ جوړولی شي، په کوم حالت کې دي؟ آيا تردې دمه افغان دولت په ځانګړې توګه د کډوالو اړوندو ادارو د کډوالو ستونزو هوارولو لپاره کوم کوټلي ګامونه اخيستي او که نه؟ ولې بهر ميشتي افغان کډوال بېرته راستنېدو ته زړه نه ښه کوي؟ د افغان دولت په تياريو او د کډوالو په نورو هر اړخيزو ستونزو دې تحليل کې ليکل شوي دي.

## هېواد ته د افغان کډوالو بېرته راستنېدل

له ۲۰۰۱ ز کال راوروسته چې په افغانستان کې يو نوی نظام منځ ته راغلی، له بهرنيو هېوادونو هر کال ډېر شمېر افغان کډوال هېواد ته راستانه شول او دا لړۍ کله په ډېر او کله په لږ شمېر کې تر اوسه دوام لري. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د احصايو له مخې د ۲۰۰۲ کال راهيسې (۹۷۲۸٦٦۳) نه ميليونه اووه لکه اته ويشت زره شپږ سوه او درې شپيته افغان کډوال هېواد ته راستانه شوي دي. د افغان کډوالو ډېری برخه  په پاکستان کې ميشته وو، له پاکستان پرته ايران دويم هېواد ګڼل کېږي چې ډېری افغان کډوالو ته يې پناه ورکړې او تر دې دمه په دواړو يادو شويو هېوادونو کې لا هم زيات شمېر افغانان د کډوالۍ شپې سبا کوي. له  بهرنيو هېوادونو راستنېدونکي کډوال يا په خپله خوښه او يا په زور هېواد ته راستانه شوي دي چې نه يې غوښتل وريپښنو ستونزو ته په کتو هېواد ته راستانه شي خو د وخت او حالاتو مجبورۍ اړ کړل ترڅو خپلې کډې بار او کډوالۍ ته نه ووايي.

چې د هغې جملې څخه د ۲۰۱٦ کال په دوران کې څو میلونه افغان کډوال ځکه له پاکستان څخه هېواد ته راوګرځېدل چې پاکستاني پولیسو د هغوی ځوروني ته کار ووایه، او په یو ډول نه، یو ډول یې هغوی اړ کړل ترڅو جوپې جوپې افغانستان ته راستانه شي، خو موده وروسته پاکستاني چارواکو هم ویتیله چې افغان کډوال یې د هېواد په اقتصاد کې اړینه ونډه لري نو ځکه یې د هغوی په زور لېږلو مخه ونیوله. له ایران څخه، که څه هم د پاکستان په پرتله هلته کم افغان کډوال اوسيږي، هم په زیات شمېر کې افغان کډوال دې اړ شوي ترڅو له یاد هېواد څخه په داسې حال کې ووځي چې د ستنېدو لپاره هیڅ پلان نه درلود او وخت پر وخت اړ شوي ترڅو له ایران څخه افغانستان ته وګرځيږي او کډوالۍ نړیوالې ادارې د وروستي راپور پر بنسټ د روان کال په جریان کې (348,870) افغان کډوال له پاکستان او ایران څخه هېواد ته راستانه شوي دي، چې د هغې جملې څخه یوازې د ایران څخه د راستنېدونکو شمېر (332,641) ګڼل کېږي، په دوی کې ثبت شوي او غیر ثبت شوي کډوال شامل دي. او د کډوالۍ نړیوالې ادارې له لوري له هغوی سره یو شمېر لومړنۍ مرستې هم ترسره شوي دي چې د راستانه شویو کډوالو اړتیاوې تر یو حده پرې پوره کېدلی شي.

## کډوال او د هېواد امنيتي او اقتصادي وضعيت

اقتصادي او امنيتي هغې اړینې ستونزې دي چې د بهر میشتو افغان کډوالو د را ګرځېدو مخه یې ډب کړې ده. دا یادې شوې ستونزې د راستنېدونکو کډوالو لپاره خورا اړینې ځکه دي چې په بهر کې زیاتره اوسیدونکي کډوال د فقر او بې وزلۍ په حالت کې ژوند کوي، مګر د هېواد د اوسني بد اقتصادي وضعیت په پرتله بیا هم کولی شي په بهرنیو هېوادونو کې یو څه د امن په فضاء کې ژوند ترسره کړي، او خپلو کورنیو ته د ژوند لومړنۍ اړتیاوې په یو ډول پوره کړي. که د هېواد روان اقتصادي وضعیت په همدې توګه روان وي چې اصلي علت یې د امنیت نه شتون ګڼل کېږي او آن په هېواد کې شته افغانان یې هېواد پرېښودو ته اړ کړي، نبایي بهر میشتي کډوال به په هیڅ ډول زړه ښه نه کړي چې هېواد ته راستانه شي. د هېواد ډېری ولایتونه چې د امنیتي ستونزو له سترو ګواښونو سره مخ دي او د یادو سیمو اوسیدونکي یې داخلي کډوالۍ ته اړ کړي هم د هېواد پر روان کمزوري اقتصاد ستر بوج اچولی او په دې توګه د بې کارۍ کچې ګراف یې هم لوړ کړی چې افغان کډوال یاد ګراف ته په کتو په هیڅ ډول نه غواړي د خپلو اولادونو راتلونکې د یو نامعلوم برخلیک سره مخ کړي او په تقریبي ډول د امنیت نه شتون بله هغه ستونزه ده چې کډوال یې له وېرې سره مخ کړي دي او کډوال نه غواړي خپل ژوند په خطر کې واچوي. که چېرته افغان دولت او چارواکي د رېښتیني امنیت او سولې په برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي، نو افغان کډوال چې په بهرنیو هېوادونو لکه پاکستان کې چې زړه ماتې او وېرېدونکې پانګونې کړي، کولی شي خپلې پانګې او سرمایې هېواد ته را انتقال کړي چې د هېواد اقتصادي پرمختګ لپاره به خورا ډېر اړین ګام واخیستل شي.

## د داخلي او بهرنيو اړوندو ادارو تياري او ژمنې

که څه هم هېواد ته د راستنېدونکو کډوالو سره د یو شمېر اړوندو ادارو لکه د کډوالې نړیوالې ادارې، یو این ایچ سي آر، افغان کډوالو وزارت او یو شمېر خیریه بنسټونو او هېوادونو له لوري وخت پر وخت مرستې ترسره شوي دي خو د کډوالو

اقتصادي وضعيت، امنيت، مېشتېدنې او نورو اړتياوو ته په کتو اړوندې ادارې اړ دي تر څو د کډوالو لپاره خپلې پاملرنې او مرستې نور ې هم زياتې کړي.

په لومړيو کې افغان دولت د کډوالو سره ژمنې ترسره کړې وې، چې راستنېدونکو کډوالو ته به د ميشت کېدو لپاره يوه يوه نمره ځمکه ورکوي، که څه هم په ځينو ولايتونو او سيمو کې ياد کار ترسره شو، خو ليدل کېږي چې يا خو کډوال يادو سيمو ته د کاري بوختياوو نه شتون او يا د امنيتي ګواښونو د شتون په وجه زړه نه ښه کوي، او نه غواړي هلته ميشته شي، خو هغه ځايونه چې امنيت يې په نسبي توګه يو څه ښه وي، يا د ځمکو د غصب په وجه او يا د دولت د بې غورۍ له وجهې کډوال نه دي توانيدلي ترڅو د اوسېدنې لپاره ځمکه ترلاسه کړي او په دې توګه په خپل هېواد کې د لا لهانده او کډوالۍ ژوند تېروي، چې دې کار بيا هغه کډوال چې په بهرنيو هېوادونو په ځانګړې توګه په پاکستان او ايران کې ژوند ترسره کوي هڅولي ترڅو خپلې کډوالۍ ته هلته ادامه ور کړي او د راغليو کډوالو د ترخو تجربو ښکار نه شي.

د ملي يووالي حکومت رامنځ ته کېدو وړاندې ولسمشر محمد اشرف غني په خپلو ټاکنيزو کمپاينونو کې په وار وار هېواد بې د کډوالو راستنېدو څخه نيمګړې ګڼلی وو، او د راستنېدونکو کډوالو سره يې د زياتو مرستو ژمنې هم وکړې، خو په تېرو پينځو کلونو کې وليدل شول چې شوې ژمنې پوره نه شوې او د راپورونو پر بنسټ راغلي کډوال بيا ځلې کډوالۍ ته اړ شول چې د جنوبي ولايتونو له لارې د کويټې او چمن سيمو په لور رهي او پاکستان ته واوښتل.

که چېرته وګورو د ۲۰۱٦ کال وروسته افغان کډوالو چارو وزارت او پاکستاني لوري ترمنځ د هغو افغان کډوالو په اړه يو تفاهم شوی وو، چې راجستر او ثبت شوي نه وو، ترڅو هغوی راجستر شي او هلته د ژوند تېرولو لپاره قانوني اسناد ترلاسه کړي، دا کار د راستنېدونکو کډوالو په اړه د دولت پاليسۍ تر پوښتنې لاندې راوستې چې ځواب يې تر اوسه خاموشي ښودل کېږي، بلکه دا چې افغان دولت د کډوالو راستنېدو ته هيڅ تيارۍ نه لرلې او هغه ژمنې چې د ټاکنيزو کمپاينونو پر وخت مختلفو لوريو ترسره کولې يوازې تر وعدو پورې پاتې شوې، او بلخوا د اوسنيو ټاکنيزو کمپاينونو په دوران کې هم د کډوالو ستونزې له پامه وغورځول شوې او ليدل کېږي چې راتلونکې پينځو کلونو کې هم د کډوالو ستونزو او راستنېدو ته کومه ځانګړې برنامه او پروګرام شتون نه لري.

## پايله

د يو اين ايچ سي آر راپورونو پر بنسټ تر دې دمه يوازې ۱.۴ ميليونه راجستر شوي افغان کډوال په پاکستان او همدارنګه دقيقه شمېر په ايران کې د کډوالۍ شپې ورځې تېروي، که چېرته افغان دولت د هغوی راستنېدو لپاره لنډ مهالي او اوږدمهالي پاليسۍ ولري او د يو پلان له مخې هغوی وهڅوي ترڅو هېواد ته راستانه شي نو دا کار کولی شي د هېواد په پرمختګ کې ښه ونډه ولري، ځکه د کډوالو په منځ کې لوړ استعدادونه، پانګه وال او تعليم يافته خلک شتون لري چې د هېواد هر اړخيز وضعيت ته مثبت بدلون ورکولی شي. او د دې کار لپاره افغان دولت بايد نړيوالې اداري هم وهڅوي او د هغو له لسيزو تجربو څخه ګټه پورته کړي او د هغوی ترسره شوې مرستې د بهرنيو هېوادونو پر ځای په خپل هېواد کې په داخلي او راستنېدونکو کډوالو په مناسب او ښه ډول ولګوي، او نور پرېنږدي چې د افغانستان

ګاونډيان د افغان کډوالو څخه ديوې وسيلې په توګه کار واخلي او يا هم پر افغانستان خپلې ناروا غوښتنې د کډوالو له ادرسه پلي کړي.

# معارف افغانستان از شعار تا عمل



بخش تعلیمی از اساسی ترین و حیاتی ترین بخش های زندگی بشریت بوده و نقش انکار ناپذیر در روند پیشرفت جوامع بشری دارد. جوامعی که به این بخش توجه نموده و در شگوفائی آن اقدام نموده اند همواره در مسیر ترقی گامزن بوده اند، و جوامعی که به آن پشت پاکرده اند، روی خوشبختی و ترقی را ندیده اند.

معارف افغانستان پس از تشکیل نظام جدید در سال ۱۳۸۰ خورشیدی از نگاه کمی سیر صعودی شگفت‌آوری داشته است. میزان شمولیت در مراکز تعلیمی و شمار مکاتب افزایش یافته است، ولی هنوز هم مشکلات و چالش‌های زیادی چون ناامنی‌ها، پایین بودن کیفیت، فساد در ادارات تعلیمی و سایر مشکلات، این عرصۀ حیاتی را تهدید می‌کند.

در این تحلیل وضعیت معارف افغانستان بعد از ۲۰۰۱، وعده هایکه تا به حال تحقق نیافته و چالش‌های عمده فرا روی معارف افغانستان پرداخته شده است.

## وضعیت معارف بعد از ۲۰۰۱ م

پس از سقوط رژیم طالبان و تشکیل نظام جدید، وضعیت معارف دچار تحول شد و صفحۀ جدیدی در این عرصه رقم خورد. در سراسر افغانستان هزارها مکتب فعال گردید و صدها هزار متعلم در آن مشغول فراگیری آموزش شدند. چنانچه در سال ۱۳۸۰ خورشیدی، ۳۳۸۹ مکتب در افغانستان فعال بود؛ که در این مکاتب، یک ملیون متعلم توسط ۲۰ هزار معلم تدریس می گردد و حضور دختران در این یک ملیون نفر، نزدیک به صفر بود اما اکنون این رقم نظر به معلومات وزارت معارف افغانستان به ۱۸۰۰۰ باب می‌رسد که نزدیک به ۹ ملیون متعلم در آن مشغول آموزش اند. حال وزارت معارف در مجموع ۱۹۰ هزار معلم دارد که از این میان ۳٦ در صد آن را معلمین مسلکی تشکیل می‌دهند. در حالی که در سال ۱۳۸۰خورشیدی  از میان ۲۰ هزار معلم معارف، تعداد بسیار قلیلی از آنها معلم مسلکی بودند. کمبود معلم

مسلکی به این دلیل بود که در آن سال درسراسر افغانستان فقط ۴ دارالمعلمین وجود داشت که مجموع فارغان آنها از ۴۰۰ تن تجاوز نمی‌کرد. ولی امروز این وزارتخانه ۴۲ باب دار المعلمین دارد که شامل تمام ولایات کشور می‌شود.

هرچند در طول این مدت معارف افغانستان رشد چشم‌گیری داشته، هزاران باب مکتب ایجاد شده و صدها هزار متعلم در این مکاتب مشغول آموزش اند. در کنار این رشد، بر اساس ارقام وزارت معارف افغانستان در حال حاضر حدود ۳.۷ ملیون کودک واجد شرایط مکتب در افغانستان، از رفتن به مکتب محروم اند. علاوه بر این، سکتور معارف در افغانستان با مشکلات و چالش‌های زیادی مواجه است که در رأس آن جنگ، نا امنی و فساد اداری قرار دارند. کمبود معلمین مسلکی و کارمندان متخصص، نبود ساختمان‌ها، کمبود کتاب‌ها و سایر لوازم درسی، معیاری نبودن امتحانات، مکاتب مسدود و خیالی، مشکلات نصاب درسی، ضعف اداره و غیره، برخی از مشکلات عرصهٔ معارف در افغانستان به شمار می‌رود.

## تعامل حکومت وحدت ملی با معارف

بهبود وضعیت معارف یکی از شعارهای برجستهٔ رئیس جمهور غنی در زمان پیکارهای انتخاباتی قبلی بود و با رسیدن او به کرسی ریاست جمهوری، در اوایل کارش در مراسمی به مناسبت تجلیل از روز معلم (۲۳ میزان ۱۳۹۳خورشیدی) بر عملی شدن شعارهای خود تعهد تازه بست.

رئیس جمهور غنی تعهد نمود که جهت بهبود و ارتقای سطح دانش معلمان کشور سعی و تلاش خواهد کرد، برای بلند بردن کیفیت تعلیم و تربیه سرمایه‌گذاری بیشتر روی معلمان صورت خواهد گرفت تا فارغان صنوف ششم، نهم و دوازدهم ما نیز صاحب کار آبرومندانه گردد و با عزت زنده‌گی کنند. او همچنان وعده نمود که فاصلهٔ مدرسه و مکتب را از بین خواهد برد و به تعلیمات دینی توجه بیشتر خواهد نمود. بربنیاد تعهدات رئیس جمهور، در زمان شش ماه برای تمام معلمان کشور در ولایات مربوطه شان یک یک نمره زمین توزیع خواهد شد و نیز خطاب به معلمان گفت: "به هر اندازهٔ که با فساد مبارزه نموده و عواید دولت ازین مدرک بیشتر گردید، به همان اندازه در معاشات تان افزودی به عمل خواهد آمد".

هرچند این تعهدات رئیس جمهور غنی در اوایل کار حکومت وحدت ملی امیدواری‌ها و خوشبینی‌های را در رابطه به بهبود وضعیت معارف به بار آورد، اما با گذشت بیش از یک سال از عمر حکومت وحدت ملی، رئیس جمهور غنی خود به خاطر عدم عمل بر تعهداتش از معلمان پوزش خواست و یک بار دیگر در مراسم آغاز سال تعلیمی ۱۳۹۵خورشیدی تعهد کرد که معارف را در رأس برنامه‌های حکومت قرار می‌دهد.

رئیس جمهور غنی در مراسم آغاز سال تعلیمی ۱۳۹۷خورشیدی نیز بر تعهدات گذشته خود مواردی تازه‌ی نیز افزود و گفت که تا دو سال آینده برای ۶۰۰۰ مکتب تعمیرهای جدید اعمار خواهد شد، مکاتب مرکز و ولایات کشور را با انترنت وصل خواهد ساخت و نیز تأکید نمود که تا ۲۷ ماه اسد سال ۱۳۹۷ خورشیدی تعهد خود را در رابطه به بلند بردن معاشات معلمان عملی خواهد کرد. اما در مراسم آغاز سال ۱۳۹۸ خورشیدی گفت: "فراهم کردن بودجه و امکانات برای شش هزار مکتب آسان نیست، ولی گام‌های اساسی برداشته شده و اکنون مرحلهٔ تحقق کامل آن فرا رسیده است."

رئیس جمهور غنی چالش‌های غیرمترقبه در بخش هماهنگی را دلیل عملی نشدن وعده‌هایش در عرصۀ معارف عنوان کرد و گفت: «کار اعمار ۱۲۰۰ مکتب جریان دارد و بودجه برای ساخت ۲۷۰۰ مکتب در سال جاری نیز تهیه و اختصاص داده خواهد شد».

با این حال از تعهدات اخیر رئیس جمهور غنی ٦ ماه می‌گذرد، اما معارف در همان وضعیتی به سر می‌برد و نشانه‌ی از عملی شدن تعهدات اشرف غنی به چشم نمی‌خورد، گزارش اخیر مشترک یونیسف و وزارت معارف افغانستان دلیل خوبی بر وضعیت ناگوار معارف در کشور می‌باشد.

## چالش‌های عمده فرا روی معارف افغانستان

با وجود وعده‌های مکرر مقام‌های حکومتی در خصوص بهبود عرصۀ معارف، هنوز هم مشکلات و چالش‌های زیادی این عرصۀ حیاتی را تهدید می‌کند، از میان ۱۴ هزار مکتب، ۷ هزار مکتب در سراسر افغانستان تا هنوز ساختمان مشخص ندارند، متعلمین در زیر خیمه‌ها و حتی فضای آزاد درس می‌خوانند. وزارت معارف سالانه حدود یک هزار مکتب جدید می‌سازد که در مقایسه با ۷ هزار مکتب بدون تعمیر خیلی کم است، چون همه ساله با توجه به جذب شاگردان جدید، نیاز به مکتب‌های جدید شدیدتر می‌شود. یکی دیگر از چالشهای معارف افغانستان نبود امنیت است؛ جنگ جاری و ناامنی در کشور مانند هر عرصۀ دیگر، چالش بزرگی در برابر معارف نیز شمرده می‌شود. بر اساس گزارش اخیر یوناما، سال ۱۳۹۷ خورشیدی خونین‌ترین سال برای مردم افغانستان بود که در آن بیش از ۱۰ هزار فرد ملکی کشته و زخمی شدند. بر اساس معلومات وزارت معارف افغانستان، در حال حاضر حدود چهارصد باب مکتب در تمام افغانستان به دلیل ناامنی‌ها مسدود اند. موجودیت فساد اداری چالش دیگری در برابر معارف افغانستان است. در آستانه آغاز سال تعلیمی ۱۳۹۸ خورشیدی، کمیته مشترک مستقل ارزیابی و نظارت مبارزه با فساد اداری اعلام کرد که در بخش معارف هنوز هم نواقص زیادی وجود دارد و اگر برای اصلاح آن اقدام نشود تأثیرات ناگواری بر نظام معارف در کشور خواهد داشت. این کمیته در عقرب سال ١٣٩٦ خورشیدی با نشر گزارشی هشدار داده بود که موجودیت فساد گسترده در وزارت معارف نگران‌کننده است. کمیته در گزارش خویش نگاشته بود که فساد در پروسۀ استخدام معلمین، فروش کتاب‌های درسی در بازار، مشکلات توزیع معاشات معلمین در ولایات کشور و سایر موارد روی وضعیت معارف در کشور تاثیرات ناگواری داشته است. نبود ساختمان‌های مکاتب نیز با فساد اداری گره خورده است. به دلیل موجودیت فساد گسترده در وزارت معارف، در بسیاری موارد مکاتب خیالی ساخته شده و پول آن حیف و میل شده است. پس از امنیت و فساد اداری، کیفیت و سطح پایین تعلیمی در معارف افغانستان، یکی از چالش‌های مهم به شمار می‌رود. بر اساس آمار وزارت معاف افغانستان تنها ۲۷ درصد از ۱۹۰ هزار  تن معلم، کم‌ترین شرایط یک معلم مسلکی یعنی فراغت از صنف چهارده را دارا می‌باشند و این وضعیت در کنار عوامل دیگر، مستقیما بر کیفیت و سطح تعلیم در کشور تاثیر داشته است. در کنار این، بربنیاد معلومات وزارت معارف، در حال حاضر ۹۰ ملیون جلد کتاب و بیش از ۷۰ هزار معلم نیز کمبود است. مشکل دیگری که در برابر معارف افغانستان وجود دارد، پایین بودن توانمندی اجراییوی سکتور معارف در مرکز و ولایات می‌باشد. سکتور معارف به دلیل کمبود ظرفیت‌های کادری و کاری

متخصص و گماشتن افراد غیرمسلکی به دلیل فساد اداری موجود، با مشکل ضعف مدیریت و نظارت ضعیف در مرکز و بیشتر مناطق کشور مواجه است. بنابراین، سکتور معارف در قدم نخست نیازمند اصلاحات در سیستم نظام مدیریتی و در قدم دوم نیازمند ایجاد یک استراتیژی ملی، منظم و همه‌جانبه بربنیاد سروی و تحقیق است تا جواب‌گوی حل مشکلات موجود در نهادهای تعلیمی بوده سطح معارف افغانستان را بالابرد باشد.

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

**ویب‌سایت:** www.csrs.com -- www.csrs.af

**شمارهٔ تماس دفتر:** 202564049 (+93) - 784089590 (0) 93 +

**لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.**